# شریعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱٦۸ ګڼه / یکشنبه ۱۰ شوال‌المکرم ۱٤٤٤ هـ.ق / ۱۰ ثور ۱٤۰۲ هـ.ش/ ۳۰ اپریل ۲۰۲۳ میلادي


معاون سیاسی ریاست الوزراء:

## تسهیلات بیشتری برای حجاج افغان فراهم شود

شریعت: معاون سیاسی ریاست الوزراء در دیدار با معین مسلکی وزارت حج و اوقات گفت که در زمینهٔ مرمت و اعمار مساجد و نیز ایجاد سهولت‌های بیشتر برای حجاج افغان توجه جدی صورت گیرد.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزراء



روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: که مولوی عبدالکبیر معاون سیاسی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان در قصر سپیدار با شیخ زرمحمد معین مسلکی وزارت حج و اوقاف دیدار نمود.

در این دیدار ... ص۵

## د لومړي ځل لپاره افغان سفیر د (ګډ امنیتي تړون سازمان) په غونډه کې ګډون وکړ



مسکو کې د اسلامي امارت د لوی سفارت سرپرست جمال ناصر غروال د روان لمریز کال د غوای په ۷مه، نېټه د (ګډ امنیتي تړون سازمان د سکرتریت په رسمي بلنه د یاد سازمان په ځانګړې امنیتي غونډه کې ګډون وکړ.

د بهرنیو چارو وزارت د ویاند مرستیال حافظ ضیاء احمد په خپله ټویټر پاڼه لیکلي، چې دغه غونډه د افغانستان په اړه جوړه شوې وه، پر امنیتي، سیاسي او اقتصادي مسایلو سربېره له ... ۵مخ

د خوړو نړیوال سازمان:

## افغانستان کې خپل کار ته دوام ورکوو

د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال پروګرام وایي د بنځو پر کار او زده‌کړو د بندیزونو له دوام سره سره په افغانستان کې خپل حضور ته دوام ورکوي. د یاد پروګرام د افغانستان د ځانګړي مشر برلین ته د سفر پر مهال ویلي چې دغه سازمان له افغانستان څخه د وتلو نیت نه لري. د دغه په وینا، بشري مرستي د ښځو، ماشومانو او معیوبینو په ګډون د ډېرو زیانمنو شویو خلکو لپاره حیاتي ارزښت لري. نوموړي همداراز د افغانستان د وضعیت په اړه د خپلي ارزونې په ترڅ کې ویلي، چې په تېر یو نیم کال کې په دغه هېواد کې بشري ناورین شدت موندلی دی. د نوموړي په خبره، که څه هم په افغانستان کې د بشري مرستو له لارې د قحطۍ مخه نیول شوي، خو لا هم میلیونونه افغانان د خوراکي توکو له نه خوندیتوب سره مخ دي.



شاروالی کابل:

## شهروندان مقروض هرچه عاجل حساب‌شان را تصفیه کنند

ریاست شاروالی کابل، از شهروندان مقروض خواست تا هرچه عاجل حساب شان را با نهاد تصفیه کنند در غیر آن با برخورد قانونی مواجه خواهند شد.

شاروالی کابل روز گذشته با نشر اطلاعیه‌ی گفت: شماری از شهروندان از سال‌های پیش تاکنون از این نهاد باقیدار اند که باید در قسمت پرداخت قروض شان اقدام کنند.

## ایراني پلاوی د هلمند اوبو په تړاو د خبرو لپاره کابل ته راځي



د ایران د چاپېریال ساتنې اداري مشر وایي، تر راتلونکو دوو اوونیو به د هلمند له سیند د حقابې په تړاو ایراني پلاوی د خبرو په موخه افغانستان ته سفر وکړي. نوموړي زیاته کړې، افغانستان ته د دغه ایراني پلاوي د سفر لپاره د شرایطو د برابرېدو په موخه هڅې روانې دي. تازه د ایران د چاپېریال ساتنې اداري رییس ایراني رسنیو ته ویلي، دوی به ډېر ژر د یوه لوړپوړي پلاوي ... ۵مخ

## میدان وردګو کې د مرمۍ چاودنې پنځه ماشومان وژلي دي

د میدان وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ دښت توپ سیمه کې د یو ناچاوده توکي چاودنې له امله پنځه ماشومان وژل شوي او دوه نور ټپیان دي. د دې ولایت د عامې روغتیا رییس ډاکټر محمد زرک ځیرک وایي، چې دا چاودنه پرون له غرمې وروسته په شاوخوا درېیو بجو شوې ده. هغه زیاته کړه چې د ډپېښې قربانیانو عمرونه له ۱۲ کلونو کم وو. نوموړي وویل، چې د پېښې ټپیان د کابل ایمرجنسي روغتون ته لېږدول شوي دي. په میدان وردګو ولایت کې د تېرو جګړو د ناچاوده توکو د چاودنې ... ۵مخ

## کار ساخت سه پروژه بزرگ عمرانی تصویب گردید



کمیسیون اقتصادی، کار ساخت سه پروژه مطرح شده از شاروالی کابل را تصویب کرد. ریاست شاروالی کابل، در خبرنامه‌یی نوشته است که براساس فیصله کمیسیون اقتصادی کار ساخت و ساز سه پروژه تصویب گردید این پروژه‌ها در نواحی اول ... ص۵

## زابل کې د غنمو کرکیله ډېره شوې



د زابل د کرنې ریاست چارواکي وایي، سږ کال په دغه ولایت کې د غنمو کرکیله ډېره شوې چې حاصلات به یې هم د تېر کال په پرتله ۵۵ سلنه ډېر وي. د یاد ولایت د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ رییس وایي، سږ کال له یوې خوا کافي اورښتونه وشول او له بلې خوا دوی وار له مخه ... ۵مخ


په انساني سرچینو کې د انګېزې اغېزې ۲مخ

پر پښتو ژبه او ادب د ټکنالوژۍ اغېزې ۳ مخ

که رسول الله ﷺ ته یوه خبره لېږې؟ ص۴


## بازداشت یک مسلح غیر مسوول در سمنگان

پولیس سمنگان یک مسلح غیر مسوول را از ولسوالی خلم آن ولایت بازداشت کرد.

مسوولان از قوماندانی امنیه سمنگان می‌گویند: «موظفین قوماندانی امنیه ولسوالی خلم سمنگان، یک فرد مسلح غیرمسوول را در پیوند به فعالیت‌های غیر قانونی و سوء استفاده از سلاح بازداشت کردند. همچنان مؤظفین قوماندانی امنیه خلم یک فروشنده مواد مخدر را با مقداری از چرس از مربوطات آن ولسوالی نیز بازداشت کردند.

## سرمقاله

## پر تعلیمي نصاب دې ژور فکر او پوره غور وشي!

افغانان که څه هم ډېر زیارکښ خلک دي او د سختو ستونزو، ستړیو او مصیبتونو ګاللو زغم لري، نو همدا وجه ده چې په یوه پېړۍ کې د نړۍ له درېیو ښکروړو زورواکو سره جنګېدلي او له خپل هېواده یې شړلي دي،خو دا چې له فني او علمي پلوه زښته ډېر ترشا پاتې دي،نو له همدې امله یې خپلواکي هم تل نیمګړې او د ژوند په اړتیاوو کې اغیارو ته بیا هم په سر ښکته کولو مجبور شوي دي. د مثال په ډول که موږ ښې پیاوړې او منظمې مدرسې لرلې، ولې به مو طالب العلمانو په پردیو هېوادونو کې نورو ته د داخلي زارۍ او خوارۍ کولې، که زموږ سره ښه پاخه ډاکټران او کره درمل وای ولې به مو له ناروغانو سره په بل هېواد کې داسې سپک چلند روان و، که زموږ سره پوره مسلکي عسکر او کاري مدافع سیستم وای، ولې به مو خپله فضا کې پردیو الوتکو او توغندیو ته د بې وسۍ سترګې وراړولې او که زموږ اقتصاد پر مختللی وای، ولې به د هر پرنګي-ګبروترسا د ناچیزه بشري مرستو منت اخیست او ترې مننه به مو کوله؟ حقیقت دا دی چې دا ټولې ستونزې، نیمګړتیاوې او مجبورۍ فقط په علمي او فني مهارتونو هوارېدلی شي. بناءً پردې موږ په هر صورت مجبور یو چې که په هره بیه تمامېږي د خپلو دیني، عصري او مسلکي تعلیماتو نصاب ته به له سره کتنه کوو او داسې به یې جوړوو چې په نتیجه کې یې هېواد سوکاله، بسیا او ملت یې له رښتیني خپلواکۍ برخمن شي.

د هېواد لپاره په علمي او فني برخه کې د ... ۵مخ

## کندز کې یو لوی جامع جومات جوړېږي


د کندز په علي آباد ولسوالۍ کې د لس میلیونو افغانیو په ارزښت د یوه جامع جومات د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

د کندز ولایت په علي آباد ولسوالۍ کې د سیمې اوسېدونکو له لورې د چیب کذر په کلي کې د لس میلیونو افغانیو په لګښت د یوه جامع جومات د بنسټ ډبره کېښودل شوه. د سیمې اوسېدونکو د باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل چې د دغه جومات د بنسټ ډبره په ۷۰۰ متر مربع ځمکه کې اېښودل شوې، چې د ۱۰۰۰ لمونځ کوونکو ورتیا لري او چارې به یې د یوه کال په موده کې بشپړې شي.

د یادونې وړ ده، د اسلامي امارت له بریا وروسته په کندز کې تر ټولو ستره پروژه بلل کېږي چې د سیمې اوسېدونکو له لوري پلې کېږي.

## لوګر او لغمان کې ۴ تنه د غلا او قتل په تور ونیول شول

د لوګر او لغمان د امنیې قوماندانۍ مسوولین وایي، چې په دغو ولایتونو کې یې ۴ تنه د غلا او قتل په تور نیولي دي. دغه ولایت ... ۵مخ



## عفو یک قاتل از سوی خانواده مقتول



شریعت: یک خانواده در جوزجان با پا در میانی بزرگان امارت اسلامی، قاتل پسرشان را مورد عفو قرار دادند.

در نشست قومی که به همین مناسبت در قریه چوباش افغانیه تدویر یافته بود، ملا عبدالقاهر حاجی ادریس معین وزارت انرژی و آب، مولوی گل محمد سلیم معاون مقام ولایت ... ص۵

## بازگشت هفت کودک رد مرز شده از ایران

هفت کودک غوری که از ایران رد مرز شده بودند، به آغوش خانواده بازگردانده شدند. این کودکان به گونه‌ی غیر قانونی وارد ایران شده بودند و توسط پولیس این کشور رد مرز و به هرات بازگردانده شده که به همکاری نهاد ورلد چلد و در هماهنگی ریاست کار و اموراجتماعی غور از هرات به غور انتقال یافتند.



# په انساني سرچینو کې د انګېزې اغېزې

پوهنيار عبدالقهار – مومنی

نچوړ

په يوه سازمان کې انساني سرچينې او هغو ته د انګېزې ورکول يو له مهمو بحثونو دي چې بې له شکه سازمانونه خپلو اوږد محالو موخوته رسوي له دې امله ټولې ادارې اړ دي چې له هغو ساتنه وکړي، انګېزه ورکړي ويې هڅوي او هغو ته د پياوړ تياوو زمينه برابره کړي. په دې مقاله کې د انګېزې په مانا، ارزښت، موخو او داچې څنګه کولای شو د يو سازمان کارکوونکي و هڅوو لنډ بحث کوو.

کليدي کليمې: مديريت، انساني سرچينې، هڅونه، سازمان.

**سريزه**

د انساني سرچينو مديريت په ټولو ادارو، موسسو او سازمانونو کې يوه اړينه او بنسټيزه برخه جوړوي د انساني سرچينو د مشر مسئوليت دی چې د سالمې ادارې په را منځ ته کېدو کې کوټلي ګامونه پورته کړي، هغوی وهڅوي او په هر راز شرايطو کې يې کارکولو ته جوګه کړي.

په يوه سازمان کې انساني سرچينې هغه وخت اغېز لرلی شي چې کارکوونکي يې پوهه او خلاقيت ولري او د سازمان ټولو اوامرو ته پابنده وي، روزنه و ويني مادي او معنوي اړتياوې يې پوره شوې وي او د سازمان موخو ته د رسېدو لپاره وهڅول شي او د قوانينو په رڼا کې د فکر، آند او عمل آزادي ولري تر څو په آرام فکر د سازمان موخو ته د رسېدو لپاره کوښښ وکړي.

**لومړی جزء-** د انګېزې لغوي او اصطلاحي مانا: انګېزه په لغت کې هغه دليل ته وايي چې شخص د يوه کار لپاره هڅوي او يا انګېزه په لغت کې ترغيب او هڅولو ته وايي او په اصطلاح کې هغه داخلي عواملو ته ويل کېږي چې د يوه کس د کړنې لامل ګرځي او يا انګېزه موخو ته د رسېدو لپاره د افرادو هڅول دي. (۳: ۱۰۰).

انګېزه هغه څيز دی، چې په انسان کې د ننه کړنې او فعاليتونه را پاروي، د انګېزې کچه د شخص د علاقمندۍ تړاو او د هغه په ژمنتيا پورې تړلې ده. يانې په هره کچه چې يو کس خپلې دندې ته ژمن او علاقمنده وي په هماغه کچه د هغه انګېزه پياوړې وي او په هر راز شرايطو کې دکار لپاره چمتو وي.

**دويم جزء-** د انګېزې ور کولو لارې چارې: هغه فکتورونه او لارې چارې چې کولای شو د هغه پرمټ خپلو لاس لاندو ته انګېزه ورکړو په لاندې ډول يې مونډلی شو:

**۱- په چاورکې خپلواکي:** خپلو مادونانو ته اجازه ورکړو او مزاحمت يې ونه کړو تر څو هغوی وشي کولی خپل کارونه په ښه توګه تر سره کړي، کله چې موږ خپلو لاس لاندو ته وخت ورکړو ترڅو خپل کار په خپله تر سره کړي هغوی د خپلواکۍ احساس کوي چې دا په حقيقت کې هغو ته يو ډول انګېزه ورکول دي(۲: ٦٨).

**۲ - د مثبتو کارونو پېژندل او تائيدول:** کله چې آمر تل د خپلو لاس لاندو منفي کړنې تر نيوکو لاندې نيسي او د هغو مثبتو کړنو ته پاملرنه نه کوي په حقيقت کې د کار کوونکو د خلاقيت مخه ډپ کوي او د هغو انګېزه له منځه وړي.

**۳- اجازه ورکول ترڅو مادونان پر مختګ وکړي:** انسانان په طبعي ډول دا ځانګړتياوې لري او غواړي چې په خپلو ورځنيو چاروکې پر مختګ وکړي، نو دا د يوه ښه او په کار پوه مدير ځانګړتيا ده ترڅو خپلو لاس لاندو ته د پر مختګ لارې چارې برابرې کړي او د نا اميدۍ پر ځای هغو ته انګېزه ورکړي او ويې هڅوي تر څو د خپل ځان، ادارې او سازمان د پرمختګ لامل وګرځي.

**۴- ښوونه او روزنه:** د دې لپاره چې يو مدير په يوه سازمان کې وشي کولای خپل سازمان لوړو موخو ته ورسوي زيار دې وباسي ترڅو خپلو کارکوونکو ته ښوونه او روزنه ورکړي ځکه چې ټول انسانان ښوونې او روزنې ته اړتيا لري، ښوونه ده چې انساني سرچينې سمبالوي ترڅو په راتلونکي کې مثبتې پايلې ولري.

کله چې يو مدير خپلو کارکوونکو ته د زده کړې زمينه برابره کړي په حقيقت کې يې هغو ته انګېزه ور کړي او هغوی يې لا کار او فعاليت ته هڅولي دي.

**درېيم جزء** - په يوه سازمان کې د انګېزې يا هڅونې موخې خورا ډېرې دی لکه: لومړی د سازمان پياوړتيا، يوه اداره يا سازمان هغه و خت پياوړی کېدای شي چې د هغې کارکوونکي فکري آزادي ولري تر څو وشي کولای ښې لاس ته راوړنې ولري او خلاق و اوسي. تجربو ثابته کړې چې کله چېرې يو سازمان وغواړي په خپلو اداري او اقتصادي چارو کې بريالی وي او له خپلو رقيبانو نه شاته پاتې نه شي بايد متخصصه، خلاق، ځواکمن او با انګېزې کسان په سازمان کې وګوماري. دويم د کار کونکو رضايت، د کار کوونکو د رضايت په تر لاسه کولو کې د هغو هڅونه اړينه ده، ځکه چې انساني ځواک د پياوړتيا پايله ده او انګېزه د انساني سرچينو ځواکمنتيا ده.

درېيم د خلاقيتونو را منځ ته کول: پوهان د خلاقيت څخه رنګارنګ تعبيرونه لري او په بېلابېلو ډولونو يې تعريفوي. يو له هغو پوهانو هربرت دی چې وايي خلاقيت هغه فکر او آند دی چې يوه ستونزه يا يوه مسئله په ښه ډول حل کړي (۱:۱۳۰) اويا خلاقيت د ذهني قدرت په کار اچول دي د يو ښه فکر د رامنځ ته کولو لپاره (۱:۱۳۰) د ادارې پايښت د هغه د کارکوونکو په خلاقيت پورې تړلې ده ځکه که په سازمان کې خلاقيت او نوښت نوې اداره ورځ تر بلې کمزورې کېږي او نه شي کولای د ټولنې اړتياوې پوره کړي. په اداره کې د مدير دنده ده تر څو خلاقيت ته زمينه براره کړي او هغه خنډونه چې د خلاقيت مخه ډپ کوي له منځه يوسي.(۱:۱۳۳).

**څلورم جزء** - د هڅونې په لاره کې خنډونه: د هڅونې پر مخ ځينې ستونزې شته لکه: لومړی د چارو په پياوړتياکې بدلون، د هڅونې په لاره کې له خنډونو يو هم دادی چې که چېرې په يوه سازمان کې بشري بدلون له حرفوي پياوړتياوو پرته رامنځ ته شي او يا د اچې کارکوونکو ته په يوه وخت کې ډېرې دندې وسپارل شي چې هغوی و نه شي کولای په ټاکلي موده کې هغه تر سره کړي.

دويم دکارکونکو رواني او فرهنګي ارزښتونه په پام کې نه نيول: په کارکوونکو کې د روحي، فرهنګي، جنسي، مذهبي، او فزيکي پياوړ تياوو او د عمر توپير په پام کې نه نيول د هڅونې په لاره کې د خنډ او ځنډ لامل ګرځي. (۱:۱۰۸).

**پايلې:**

په اوسنۍ نړۍ کې د ژوند په ټولو برخو کې د پرمختګ او ځان بسياينې لپاره اړينه ده چې د مديريت له اصولو څخه چې يو يې د انساني سر چينو هڅونه ده ګټه واخيستل شي ځکه دا هغه مهارت دی چې د سازمان ستراتېژيکو موخو ته د رسېدو لپاره په لاره اچول کېږي، تجربو ثابته کړې، چې په هغه اداره يا سازمان کې چې سالم مديريت شتون ولري چار واکي او کار کوونکي په کې خوښ او سازمان ښه پرمختګ کوي.

**اخيستنې.**


۱. رحماني، عبدالطيف، کتاب اداره و مديريت (۱۳۹۷) کابل، سعيد خپرندويه مطبعه، دريم چاپ.

۲. ستانکزی، محمد ناصر، کتاب مديريت تطبيقی منابع بشری، (۱۳۹۱) کابل، سعيد خپرندويه مطبعه.

۳. جزني، نسرين، کتاب مديريت منابع انساني(۱۳۸۶) کابل، د نی خپرندويه مطبعه، پنځم چاپ.

٤. رابينز، استيفن پی، ژباړونکی داکتر علي پارساييان او داکتر سيد محمد اعدايي سامی(۱۳۹۴) کابل، ايران ملي خپرندويه مطبعه. شپږ ويشتم چاپ.


# د زندان خاطره

قاري توريالی تائب

شپه په پخېدو وه، مستنطق مې بدل شو ، دا بل مستنطق دنګ او ښايسته ځوان و.

له ځان سره مې وويل: کېدای شي دا به ښه سړی وي او ګوزاره به راسره وکړي.

ځوان په چوکۍ کې کېناست او ماته يې په رډ رډ وکتل ،راته يې وويل،چې ته قاري توريالی يې؟

ما ورته وويل هو؛ويل يې: ماته ساده او ژر ژر ځوابونه راکوه ، زه نه غواړم چې تا وځوروم خو حقيقت به راته وايي او که حقيقت دې ونه ويل زه دې بيا هېڅ ډول خبرې نه آورم ، زه د شَکر ناروغي لرم او حوصله نه لرم

ما ويل سمه ده.

استعلام کې يې راته وليکل:

د بريد پر مهال په کوم ځای کې وې او څنګه دې بريد رهبري کاوه؟

ما ورته په ځواب کې وليکل: شاګردان مې رخصت کړي وو او زه د ويده کېدو لپاره د استادانو کوټې ته ننوتم خو چې ځادر مې په سر راکش کړ نو درز او دروز شروع شو.

نور نو زه نه له بريده خبر يم او نه يې له رهبرۍ نه.

کاغذ مې ورته مخې ته کېښود.

ويې لوستل او اووووفففف يې له خولې نه ويسته او د خولې د بدبويۍ توپان يې زما د پوزې جغرافيايي سيمه وځپله.

په ډېر قهر له چوکۍ نه راولاړ شو.

دواړه لاسونه يې راته سرچپه ولچک کړل (چپه بست) يې کړم.

بيا يې په چوکۍ کېنولم زما د پښو زولنې يې د چوکۍ له پايې سره کلکې کلکې وتړلې او له زنګانه، نه ښکته د پښو په وچو هډوکو يې د اوږدې وسپنې ګوزارونه شروع کړل.

خدای شته چې ښه يې خولې کړم او بې دريغې چيغې مې ورته ووهلې.

سخت بد درد يې کاوه.

هر څه مې ورته ويل چې ته صبر رښتيا درته وايم، خو د ظالم زوی هېڅ غږ نه آورېده، د يوې کمې مودې لپاره ودرېده ايخوا دېخوا يې وکتل يو د وسپنې چوکۍ يې راواخيسته او وار يې راباندې وکړو نور نو زه هم په ځان نه يم پوی شوی او بې هوښه شوی وم.

يو وخت مې چې سترګې وغړولې.

ګورم چې په خپله کوټه کې پروت يم او نور بنديان ملګري مې راته د بورې شربت تيار کړی

شربت مې په يوه ساه تر ستونې تېر کړ او عجيبه خوند يې وکړ.

اوس مې هم د يخنۍ په موسم کې هماغه هډوکي خوږېږي او درد کوي.

پوره درې جوړې جرابې په پښو کوم او زېر دريشۍ هم آغوندم خو نرم نرم درد يې احساسوم او د شپې مې په خوبونو کې ځوروي.

مستنطقه! څه درته ووايم.



# له مړيني وړاندې، د انسان کوم حس تر پايه کار کوي؟

ژباړه: ډاکټر زاهد نايل



د ژوندانه په وروستيو لحظو کې، کله چې شعور له منځه ځي، نو په دغه وخت کې هم دماغ د شاوخوا آوازونو تجزيه بيخي داسې کوي، لکه د يو صحتمند ځوان دماغ يې چې کوي. دا ادعا په يوه نوې څېړنه کې شوې.

د ساينټېفيک (علمي) راپورونو مجلې لخوا په خپاره شوي تحقيق کې ويل شوي: د مرګ په بستر د پراته تن خواخوږي چې څه وايي، کېدای شي چې دغه خبرې د مړ کېدونکي کس لخوا څه عکس العمل يا ځواب ونه لري. خو دا خوشې هم نه ځي، بلکې د مرګ پر خوله کې، کس ته سکون ورکولی شي.

د دغې څېړنې پر مهال د کاناډا په وينکوو ښار کې طبي ماهرينو په وروستيو شېبو کې د هوش او حواسو بايلونکو افرادو دماغي فعاليتونه د EEG يا د سر د برقي ګراف اخستلو ماشين په ذريعه تر څار لاندې ونيول، د EEG يا د سر د ګراف، مقايسه د روغو کسانو او نورو نويو هوش له لاسه ورکوونکو کسانو ترمنځ هم وشوه. د هر ګروپ لپاره مختلف زنګونه په ځانګړيو اندازونو کې وکړنګېدل.

دغه راز څېړونکو خاصې دماغي سيالې، MMN، P۳A او P۳B وليدلې. دا ښيې يا سيالې هغه وخت په نظر راځي، چې دماغ د معمول خلاف اوازونو باندې پاملرنه راغونډوي.

څېړونکو ويلي، مرګ ته په نږدې ناروغانو کې د دغو سګنالونو يا سيالو غبرګون په Tune يا مخصوص غږ د بدلېدو پر مهال وليدل شو، داسې ښکارېده چې په دغو کسانو کې د اورېدو حس له مړينې نه څو ساعته وړاندې هم داسې کار کاوه، لکه د روغو او ځوانو کسانو د اورېدو حس چې څه رنګې فعال وي.

د څېړنې له مخې، مرګ ته د نږدې (نور نو مړۀ کېدونکو) کسانو، دماغو له مړينې څو لمحې وړاندې ځانګړي غږونه پېژندل، خو دا څرګنده نه ده، چې په دغه حالت کې څوک (مړ کېدوونکی) په شعوري توګه په اورېدونکو الفاظو سم پوهېږي يا نه!؟

څېړونکي وايي، دماغو د اوازونو په وړاندې غبرګون ښوده، مګر موږ ته په دې پوهېدل ناشوني وو، چې دوی دا غږونه پېژني که نه؟ يا په ژبه موپوهېږي؟

خو بيا هم د دوی په خبره، له پايلو نه دا څرګندېږي چې مرګ ته نږدې کسان د خپلو خواخوږو او عزيزانو غږونو ته پاملرنه کولی شي او آرام ورته رسېږي.

څېړونکو زياته کړې، چې دا د يو چا د ژوندانه په وروستيو ورځو او شېبو کې اهميت لرلای شي، چې وکړي په شخصي توګه يا په ټيليفون او موبايل له دوی سره د مينې څرګندونه او خدای پاماني وکړي.

# قرآن عظیم الشان مملو از آموزه های تربیتی و امارت اسلامی نیز پابند آن است

**احمد نوید**

اخیراً شورای امنیت سازمان ملل متحد در قطعنامه یی خواستار لغو سریع تمام اقدامات محدود کننده امارت اسلامی علیه کار زنان شده و علاوه بر دیگر موارد از همه دولت ها و سازمان ها نیز خواسته، از نفوذ خود استفاده کنند تا این که امارت اسلامی پالیسی ها و عملکردهای خود در مقابل کار زنان را تغییر دهد که این قطعنامه با واکنش های ملی و بین المللی مواجه گردید است.

سفیر و نماینده دایمی روسیه در ملل متحد از محتویات قطعنامه شورای امنیت سازمان ملل، انتقاد کرده و با اشاره به منجمد شدن دارایی های ملی افغانستان، توسط امریکا، گفته که اگر شما اینقدر صادق استید، چرا دارایی های را که از این کشور دزدیده اید، بدون هیچ پیش شرطی، پس نمی دهید، انس حقانی عضو ارشد امارت اسلامی نیز در تویتی از شورای امنیت ملل متحد خواسته است که در عوض ادامه پالیسی شکست خوردهٔ فشار، تعزیرات دیپلوماتیک و مالی را که به برخی از مقامات امارت وضع شده، حذف کنید، تعزیراتی که به گفته او مجازات دستهٔ جمعی افغانان است.

هر چند وزارت خارجه امارت اسلامی با نشر اعلامیه یی از بخشی قطعنامه، شورای امنیت استقبال کرده است که بر حاکمیت، استقلال، تمامیت ارضی، وحدت ملی، صلح، ثبات حق اصلی یعنی حق تعیین سرنوشت به رهبری و مالکیت افغانان، تاکید شده، اما در اعلامیه این وزارت به این موضوع نیز اشاره گردیده که افغانستان از چندین دهه منازعه، رنج برده است که اکثراً توسط قدرت های خارجی بر مردم این کشور تحمیل شده است، مسیر بهبودی پس از جنگ، مستلزم رفع بی قید و شرط تعزیرات و محدودیت های وضع شده از سوی ملل متحده است.

در قسمت دیگر اعلامیه نیز آمده که وضعیت بحران بشری در افغانستان، ساخته دست بشر است که منشأ آن وضع محدودیت اقتصادی بر این کشور می باشد و در پهلوی آن از فراهم آوری کمک های بشر دوستانه جامعه بین المللی نیز ستایش کرده وا ضافه نموده که بحران بشری کنونی در افغانستان فقط از طریق حذف محدودیت های اعمال شده، می تواند، رفع شود.

همچنان امارت اسلامی به موقف شورای امنیت مبنی بر محکوم کردن کار زنان در سازمان ملل و سازمان های غیر حکومتی نیز گفته بود که این اقدام آنان یک موضوع اجتماعی، داخلی وانتخاب مستقل افغانستان است که تأثیری بر کشور های خارجی ندارد.

مردم افغانستان نیز در واکنش به قطعنامه شورای امنیت سازمان ملل، گفته اند که در جهان امروز نظام های متفاوت با معیارها و ایدیولوژی های متفاوت وجود دارد که به گواهی تاریخ، هیچگاهی سازمان ملل به آنان انگشت انتقاد نگذاشته، صرف این امریکا است که بعد شکست اش از این کشور، بارها در مسایل داخلی ما مداخله و شماری از کشور های وابسته به خود را نیز به دنبال خود کشانده است تا از آنان در برخی موارد، استفاده ابزاری کند.

بنابرین جهان باید بداند که افغانستان عضو فعال سازمان ملل و پابند به میثاق های بین المللی است و وضع تعزیرات و محدودیت های مالی و سیاسی بر این کشور یک اقدام یک جانبه بوده که فشارهای مضاعف آنرا مردم افغانستان متحمل می شوند.

روی این اساس جامعه بین المللی، سازمان ها و نهادهای وابسته به ملل متحد به ویژه شورای امنیت این سازمان، بایست واقعیت های موجود در افغانستان را درک کنند و این را بدانند که اسلام عزیز و نظام های اسلامی، هیچگاهی مخالف تعلیم و تربیه زنان نبوده، بر عکس این امپراتوری های اسلامی در جهان بودند که دانشمندان زیادی را در سراسر جهان در علوم عصری، نجوم، طب و اسلامی تقدیم جامعه کردند، چون به باور مسلمانان تعلیم و تربیه، بزرگترین هدف انبیا (ع) و رسولان الهی به خصوص حضرت بهترین عالم (ص) بوده است، از همین رو قرآن عظیم الشان مملو از آموزه های تربیتی می باشد که امارت اسلامی افغانستان به این آموزه ها پابند است و با به دست آمدن، امکانات، وسایل، تجهیزات و مکان های مصؤن، زمینه آموزش برای دختران را نیز مساعد خواهد ساخت که بدون شک این همه مسایل موارد داخلی و متعلق به افغانان است.

# پر پښتو ژبه او ادب د ټکنالوژۍ اغېزې

**ولي الله غرور**

د بشر له پیدایښت سره سم د خبرو کولو اړتیا پیدا شوه.

ژبپوهان وایي، چې انسان په اوایلو کې د یو او بل پوهولو او خبرولو لپاره په خپل چاپېریال کې د موجودو حیواناتو، پرندو او خزندو غږونه زده کول او په دې ډول به یې تر لږې ځایونو پورې یو د بل احوال اخیست. د بېلګې په ډول: که څوک به په کوم ځنګله کې له کوم ښکاري حیوان سره مخ شو، نو ده به د همغه حیوان غږ وویست او په دې ترتیب به یې خپل ملګري خبرول، چې ستونزه ورته پېښه ده.

د انسان لومړنی ښوونکی د کائناتو خالق خدای ج دی، چې انسان یې خلق او بیا یې هغه ته د خبرو کولو توان ورکړ. انسان ته یې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره امکانات برابر او د هغوی د کارولو، پېژندلو، نوم اخیستلو او خبرو کولو استعداد یې ورکړ.

د یوې ژبې پرمختګ او ژوند په دې کې دی، چې ویونکي یې د وخت له تاړاکونو، جنګونو، ناخوالو او زماني فشارونو څخه وژغوري او همدا راز یې د نورو ژبو له مستقیم اغېزه وساتي.

په نړۍ کې تقریباً شپږ زره ژبې شتون لري، چې پنځوس ژبې یې د خپلو بډایو ادبیاتو په درلودلو سره د لیک او لوست ژبې دي، چې په نړیوالو ژبو کې راځي، چې له نېکه مرغه پښتو ژبه هم د دغو ژبو په کتار کې راځي.

پښتو، چې د پښتنو د عظیم ملت د ژبې نوم دی، د نړۍ په هر ګوټ کې خپل ویونکي لري او وخت په وخت یې د خپلو همځولو او نړیوالو ژبو سره د سیالۍ په هسک منار درولې او پاللې ده.

(پښتو یوه اریایي ژبه ده، چې د هندو اروپایي ژبو د سترې کورنۍ په هندو ایراني څانګه کې راځي او د دې څانګې په اریاني ګروپ کې شاملېږي او د اریاني ګروپ په شمال ختیځ ښاخ پورې اړه لري.)

د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې ستر او مشهور ادیبان، شاعران، فیلسوفیان، پاچاهان، علماء، اتلان او د فکر او نظر خاوندان تېر شوي، چې اوس په نړیوالو ادبیاتو کې ثبت او راجستر دي. پښتو ژبه د نړۍ په بېلابېلو پوهنتونونو او تعلیمي ادارو کې تدریسېږي، په ډېرو سفارتونو کې پرې وینا کېږي او یا نورو ژبو ته ژباړل کېږي. په نړیوالو کتابتونونو او موزیمونو کې د پښتو ژبې قلمي نسخې او ډېرلیکونه د اثارو په بڼه ساتل شوي دي.

یوویشتمه پېړۍ چې د ساینس او ټکنالوژۍ دور دی او انسان په کې په ډېرې چټکۍ سره پرمختګ وکړ، بشر د ساینس له تیوریو او فورمولونو کار واخیست، ټکنالوژي یې رامنځته کړه، سپوږمۍ ته وختل او د بحرونو په منځ کې یې، ډېوالونه، پلونه او بازارونه جوړ کړل، چې د انسان په دغه چټک پرمختګ کې د ټکنالوژۍ او ژبې شتون اساسي نقش لوبوي. دا چې د ځمکې پر مخ انسان د ساینس او ټکنالوژۍ پر مټ ډېر پرمختګ کړی، نو په ژبو یې هم خپل اغېز ښیندلی، چې د ژبو دغه اغېز د ادبیاتو د تخلیق سبب ګرځېدلی دی.

پښتو ژبه د خپل قدامت او لرغونتوب په لرلو سره یو اساس دی او ټکنالوژي د یوویشتمې پېړۍ نوې بشري منځته راغلې هڅه ده، نو طبعاً چې د پښتو ادبیاتو په وده او پرمختګ کې د ټکنالوژۍ ونده ډېره اغېزمنه ده، چې دغه اغېزه له ځان سره مثبت او منفي ټکي درلودلای شي.

- د یوې ټولنې روح کتابتون دی

- مثبت ټکي:

=۱ـ د پښتو ژبې ادبیات د نړۍ د نورو ژبو له ادبیاتو سره د کلماتو ورته والی او تبادله پیدا کوي او د نړیوالو ژبو سره اوږه په اوږه مزل کوي.

۲ـ د ټکنالوژۍ پر مټ د پښتو ادبیاتو د خوندیتوب لپاره په انټرنیټ کې بېلابېل سایټونه رامنځته شول.

۳ـ د پښتو ادبیاتو غږیز سافټونه، انلاین درسي مېتودونه او صنفونه د پښتو ژبې او ادبیاتو په ژوندي ساتلو کې مهم رول لري.

۴ـ په ګوګل او نورو ټولنیزو انټرنیټي شبکو کې د پښتو ژبې ځای پر ځای کول.

۵ـ په موبایل، کمپیوټر او چاپي ماشینونو کې د پښتو ژبې کیبورډ (لیکمن) کارول او ځای پر ځای کول، په پښتو ژبه کې ډېرې آسانتیاوې رامنځته کړې دي.

۶ـ پخوا به ادبي بهیرونه و او د نړدې سیمو شاعرانو او ادیبانو به په کې په حضوري ډول اونیزې یا میاشتنۍ غونډې ترسره کولې، چې اوس د نړۍ له هر ګوټه پښتانه د ټکنالوژۍ پر مټ د واټساپ، ټلیګرام او نورو ټولنیزو رسنیو له لارې په انلاین ډول جرګې او ادبي بهیرونه ایجاد کړي او په منظم ډول ګډون په کې کوي.

۷ـ د پښتنو ټولنه چې زیاتره وګړي یې د لیک لوست نه بې برخې دي، اوس دوی هم خپل پیغام په غږیزه بڼه یو تر بله رسولی شي.

په ټوله کې ویلای شو، چې د پښتو ادبیاتو په وده کې د ټکنالوژۍ ونډه مو له نړیوالو ژبو سره سیال او د هغوی له پام او سترګو مو نه شي غورځولی.

د کتاب ډالۍ کول د پوهې ډالۍ کول دي

منفي ټکي:

۱ـ ټکنالوژي د کتاب د چاپ پروسه ځنډولې او د کتابونو دود یې له منځه وړی دی.

۲ـ د سوچه او لرغونو لغاتونو زېرمه، چې پخوا به د کتاب په بڼه ساتل کېدل، خو اوس په انټرنیټ کې د ډکشنرۍ او اپلیکیشن په وسیله کار ترې اخیستل کېږي.


۳ـ د دې تر څنګ د ادبي بهیرونو رڼکېدل او یا کم رنګه کېدل دي، چې له حضوري بڼې یې انلاین بڼې ته تغییر کړی دی.

۴ـ ټکنالوژي د لیکلو، خطاطۍ، نقاشۍ او رسامۍ هنر له منځه وړی دی.

۵ـ د ادبي غلاوو زمینه یې برابره کړې او د کاپي پیسټ فرصت یې رامنځته کړی دی.

څلوریزه

**ورختلي اندازه د ځمکي اخلي**
**د کافر بچي سپوږمۍ رانښکته نه کړي**
**په اوبو کې هم تر قشره رسېدلي**
**وچې ځمکې ته کښتۍ رانښکته نه کړي**




# زما د مېرمنې رئیس!

**ژباړه: عبدالرحمن محمود**

یو عرب خپله کیسه داسې کوي:

مېرمن مې په کوم ځای کې دنده لري، تنخوا اخلي، د کار رئیس یې تر ما ډېر وخت ورسره تېروي، تر ما هغه ډېرې خبرې ورسره کوي، له ما د هغه څخه ډېره وېرېږي، تر ما له هغه څخه ډېر توقعات او امیدونه لري.

کله چې زه ورته تلېفون وکړم، کله ځواب راکړي او کله یې نه راکوي، خو چې رئیس یې زنګ ورته ووهي او تلېفون ته وبرېدلې ور منډه کړي، خپل آواز ورته نرم کړي، أو په ټولو خبرو کې ((نعم. نعم. طیب. طیب )) ورته وایي، یعنې سمه ده سمه ده.

زما سره یې د آواز أو خبرو بڼه بدله ده ، کله چې د یو کار غوښتنه ترې وکړم په ډېرو اعتراضاتو او بحثو یې ېبرته پښېمانه شم.

رئیس یې خپل کاري دفتر ته ور وغواړي په ساعتونو ساعتونو دروازه ور پورې بنده وي، رئیس یې د کار په اړه تفصیلات ورته بیانوي، د رخصتۍ په ورځو کې تلیفون ورته وکړي په ساعتونو ساعتونو خبرې سره کوي، کله چې زه مداخله وکړم دا راته وایي: ته غواړې چې ما له دندې څخه پسې واخلې، ته غواړې چې زما راتلونکی خراب شي؟

خلاصه داچې دا احساس کوم لکه د مېرمنې رئیس چې مې په ټولو شیانو کې زما سره شریک وي، او په دې شراکت کې ځان راته هېڅ سړی نه ښکاري، رئیس یې روپۍ ورکوي، أوامر ورته صادروي، هغه یې د ژوند محور ګرځېدلی دي، کله خو زه له ځان سره وړایم چې کاش زه یې رئیس وای.

دا عرب وایي: نو فیصله مې وکړه چې نور باید نارینه شم او له دې حالته ځان را وباسم، نو یوه ورځ مې ځان تیار کړ ، غاړې مې تازه کړي چې ښځې نور زه ، زما او ستا تر منځ دریم کس نه شم زغملای، نور دا تحمل نه شم کولای چې رئیس دې په کټ کټ درسره خاندي او په ساعتونو ساعتونو خبرې درسره کوي، نور زغم نه لرم چې هره ورځ دفتر ته له تلو نه مخکې په هینداره کې ګوري او د رئیس لپاره دې ځان سینګاروي، نور باید دې وظیفې ته استعفاء ورکړې.

د دې خبرې له أورېدو سره سم مې مېرمنې طلاق را څخه وغوښت ، اوس دا یو په محکمه کې د قاضي د راتلو انتظار کوو.

نو د مخلوط نظام بیا داسې نتائج وي!

## شعر و ادب

### غزل

**حضرت عطار (رح)**

هـــر دلی کـــز عشـــق تـو آگاه نیست
گو بـرو کـــو مـــرد این درگاه نیـــست
هـــر که را خـــوش نیسـت با اندوه تو
جـــان او از ذوق عشـــق آگاه نیـــست
ای دل ار مـــرد رهی مـــردانـه باش
زانکه انـــدر عاشـــقی اکـــراه نیـــست
عاشـــقان چـــون حلقه بر در مانده‌اند
زانکه نـــزدیک تـو کـــس را راه نیست
گـــرد بـــر گـــرد دلـم از درد تـــو
خـــون گـــرفت و زهره‌یک آه نیست
بر ســـر آی از قعر چاه نفس از آنک
یوســـف مصـــریت اندر چاه نیست
چنـــد جـــویی آب و جـاه ار عاشقی
عاشـــق انـــدر بنـد آب و جاه نیست
زاد راه مـــرد عاشـــق نیـــستی است
نیســـت شـــو در راه آن دلخواه نیست
در ده ای عـــطار تـــن در نیـــستی
زانکه آنجـا مـــرد هستی شاه نیـــست

*****

گـــر نبـــودی در جهان امکان گفت
کی توانســـتی گـــل معنی شکـفـــت
جان ما را تا به حـق شـــد چشـــم باز
بس که گفـــت و بس گل معنی که رفت
بی قـــراری پیشه کـــرد و روز و شب
یک نفس ننشست و یک ساعت نخفت
بس گهـــر کـــز قعـــر دریای ضمیـــر
بر ســر آورد و به خـــون دل بســـفت
پاک‌رو دانـــد که در اســـرار عشـق
بهتـــر از مـــا راهبـــر نتـوان گرفت
آنچه مـــا دیدیـــم در عالـــم که دید
وآنچه ما گفتـــیم در عالـــم که گفت
آنچه بعد از ما بگـــویـــند آن ماســـت
زانکه راز گفـــت نیـــست از مـا نهفت
تربیـــت مـــا را ز جـــان مصطفاست
لاجـــرم خـــود را نمی یابیـم جفـــت
تا تـــویی عـــطار زیـــر بـار عشـــق
گـردنان را زیـــر بار توســـت سفـــت
صـــورت جان است شعـــرت لاجـرم
عقل را نظـم تـــو می‌آیـــد شـگفـــت

*****

عشـــق جـــز بخشـش خـــدایی نیست
این به سلطـــانی و گـــدایی نیـــست
هـــر که او برنخیـــزد از ســـر ســـر
عشـــق را بـــا وی آشـــنایی نیست
عشـــق وقف اســـت بر دل پـــر درد
وقـــف در شـــرع ما بهایی نیـــست
هـــر که را بـــاز عشـــق صیـد کند
بازش از چنـــگ او رهـــایی نیـــست
کـار آن کـــس که عـــاشـــقی ورزد
به جـــز از عیـــن بی نـــوایی نیـــست
چـون رســـیدم به نـــزد آن معشـــوق
کار جـــز عیـــش و دلگشـــایی نیست
هرچه عطـــار گـوید از ســـر عشـــق
به یقیـــن دان که جـــز عـــطایی نیست

# رسول الله ﷺ د بشریت ناجي او د اسلام د سپېڅلي دين لارښوونکی دی

**حيا ت الله حليم**

په اوسنی اسلامي نړی کې د اسلام سپېڅلی او صالح دين د بشرد هدايت او لارښوونې لپاره د نړۍ د نورو اديانو او مذاهبو ترمنځ يو بشپړاو مناسب دين پېژندل شوی، چې د الله پاک لخوا څه باندې ۱۴۰۰کاله د مخه د وحيې په ذريعه په جناب رسول الله مبارک را نازل او د هغه مبارک په زيار او سعې د نړۍ د مسلمانانو ترمنځ خپور او شايع شو، د اسلام له سپېڅلي دين د مخه په عربستان کې د جاهليت داسې توره دوره روانه وه چې د دوی د فرهنګ له مخې به نوې زېږدلې نجونې ژوندۍ ښخېدې، د مکې د قريشو ترمنځ پرستي رواج وه او د مکې معظمې په خونه کې بوتان نصب وو، په روم کې مسيحيت چلېده، په اوسني افغانستان او ايران کې زردشتي دين اورپالنه په هند او د افغانستان په يو شمېرختيځو برخو کې بوداييزم اوهمدارنګه په نوره نړۍ کې د ورته باطلواديانو پيروي کېدله، د اسلام د سپېڅلي دين په راتګ سره په جزيرة العرب د ټولوخرافاتو لمن ورټوله شوه ځکه د عربي نړۍ اوسېدونکي دا وخت له يوې مخې د باطلو اديانو پيروانو ترڅنګ يې نورې کبيره ګناوې لکه شراب څښل ، قماروهل هم د دوی ورځنی عمل و.

کله چې خاتم النبين حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وآله وسلم ' د الله ج له لوري د اسلام د سپېڅلي دين په اشاعت چې پر وحدانيت اويکتاپرستی ولاړ و، مامورشو، نو موضوع د مکې په کفاروځکه سخته تمامه شوه چې دوی د معبودانو په تعداد عقيده درلوده او د هرڅه لپاره يې ځانګړی معبود درلود، چې دا ټول معبودان يې د کعبې شريفې په خونه کې را ټول اوځای پرځای کړي وو، رښتيا هم چې د الله ج د دين عامول په يوه داسې ټولنه کې چې هلته بت پرستي، شرک او جهل اوج ته ختلی وي طبعاً به سخت اوستونزمن کار وي ، يا په بل عبارت د سرکشه قريشو د پخوانيو باطلو اديانو او ارزښتونو پر ځای د اسلام د سپېڅلي دين خپرول او عامول به طبعاً د دوی د جهالت رسومو، ته ستره ننګونه وه .

د مکې قريشو به ټول توان جناب رسول الله مبارک د اسلام د دين اشاعت او دعوت ته نه پرېښود او د ده په مخ کې به يې داسې خنډونه را پورته کول چې اراده يې ټکنی کړي،دوی به هره ورځ د رسول الله مبارک دکاکا ابوطالب مخ ته حاضرېدل چې ګويا محمد ص ته نصيحت وکړي څو د دوی د معبودانو (بتانو) سپکاوی ونه کړي موضوع به کله نا کله تردې حده تنده شوه چې د هغه مبارک له منځه وړلو ته به يې ملا وتړله ،څوځله دغه پېښې تکرار شوې، خو رسول الله مبارک به د الله پاک په حفاظت کې د دغه بدغونوله شوم نيت څخه تل روغ رمټ ژغورل کېده او د مکې کفارو به توان نه پيدا کاوه چې رسول الله مبارک ته ډېرلږ زيان واړوي.


څرګنده ده چې د ارزښتونو لپاسه د نورو معنوي ارزښتونو را وړل او په خلکو قبول حتمي سترې لانجې را پېښوي او جګړې، چې له همدې امله رسول الله مبارک هم د قريشو او د عربو د نورو قبيلو سره په وارو، وارو په جګړو اوښتی دی، د بدر،احد، ذات الرقاع، همدارنګه د خندق غزا چې د هجرت په پنځم کال پېښه شوه،د حديبې غزا چې د هجرت په شپږم کال پېښه شوه، د مکې د فتحې غزا چې د هجرت په اتم کال پېښه شوه مکه معظمه فتح او بتان د کعبې شريفې له ودانۍ د باندې را وغورځول شول ،د تبوک غزا چې د هجرت په نهم کال پېښه شوه دا ټولې هغه غزاګانې وې چې د رسول الله مبارک او د جزيرة العرب دکفارو ترمنځ پېښې شوې او برې د مسلمانو په برخه شو.

د رسول مبارک تر رحلت پورې ټوله جزيرة العرب د اسلام په سپېڅلي دين نه وه مشرف شوې خو وروسته مسلمانانو هلې ځلې وکړې دغه نجات ښوونکی دين يې د نړۍ هرې برخې ته ورساوه، خو پاتې دې نه وي چې د دغه سپېڅلي دين دښمنان له هماغه پيل څخه بيا تر ننه پورې د توطيو په کمين کې ناست او مسلمانانو ته سرخوږي جوړي، د دې ترڅنګ په وروستيو پېړيو کې اسلامي هېوادونو ته له هر لوري د غرض ډک لاسونه را اوږده شول او د مسلمانانو له نېکې رويې په منفي ګټې اخيستنې يې د دوی ترمنځ په يوه او بل نامه د باطلو عقايدو مفتنې ډلې ټپلې جوړې کړې چې د يوڅه مودې لپاره يې نوی سرخوږي را پورته کړ خوبيا هم په الهي نصرت د دې ډلو ټپلو مخه ونيول شوه ، د اسلام سپېڅلی دين په لوړ محنت او قربانۍ زموږ تر زمانې را رسېدلی ، سيرتونه او نور اسلامي روايات په دې ګواه دی چې رسول الله مبارک د جهل ، بت پرستۍ او خرافاتوڅخه د بشريت په ژغورلوکې ډېرتکليفونه وګالل،له ډېرو ستونزو سره مخ ، خوبيا يې هم اراده ټکنۍ نه شوه .



# که رسول الله ﷺ ته يوه خبره ليږې؟

**حسان مجاهد**



د يرموک په غزا کې يو زړور او پهلوان رومي کافر را وړاندې شو او ويې ويل چې له ما سره کوم مسلمان مقابلې ته چمتو دی؟

يو نامعلوم هلک چې عمر يې تر شل کلنۍ نه و تېر؛ د مسلمانانو مشر ابو عبيده ابن جراح(رض) ته وويل: زه غوارم چې د الله تعالی د يو دښمن په وژلو زړه يخ کړم، د الله تعالی په لاره کې ځان قربان کړم په دغه اميد چې الله تعالی شهادت را په برخه کړي؛ نو ايا ته اجازه راکوې؟

دې الفاظو ابو عبيده (رض) حيران کړ او د مبارزې اجازه يې ورکړه. مبارزې ته د وتلو پر مهال (چې د نومورې وروستۍ شېبې وې او د شهادت په ابدي سفر روان و) ابو عبيده ته يې وکتل او ورته يې وويل (( ايا رسول ﷺ ته يوه خبره لېږې؟)) ابو عبيده په دې خبره دومره وژړل چې ږيره يې لمده شوه، له هغه وروسته يې وويل: رسول الله ﷺ ته زما سلامونه وايه او ورته ووايه چې له تا وروسته موږ هغه څه ترلاسه کړل چې له موږ سره رب تعالی وعده کړې وه! په مسلمانانو کې نامعلوم، خو الله تعالی ته ښه معلوم هلک د هغه رومي کافر مقابلې ته ور وړاندې شو، هغه يې وواژه، آس او سلاح يې مسلمانانو ته غنيمت راوړو. دوهم ځل بيا ور وړاندې شو او غږ يې کړ: څوک مبارزې ته چمتو دي؟

دوهم کافر ورته را وړاندې شو، هغه يې هم وواژه، دريم او څلورم يې همداسې ووژل، خو د پنځم کافر په راتګ سره د هلک اجل او له رسول الله ﷺ سره دليدنې وخت را نږدې شو، کافر يې غاړه ووهله او په ځمکه را پرېوت. سپېڅلې روح يې د شنو مرغانو په سينو کې د جنتونو په لوري پرواز وکړ او رسول الله ﷺ ته يې د ابو عبيده رض پيغام ورساوه (انا لله وانا إليه راجعون) ماخذونه:[مائة من عظماء التاريخ][قصة الإسلام]

## د تورخم د ترانسپورټ مدیریت ...

له لاري راجمع کړي دي.
کوتوال زیاته کړه، چې د مسافربرۍ له لارې د درې سلني ټکس پر اساس ۵ میلیونه او ۴۳۸ زره افغانۍ عواید راجمع شوي، چې د ۱۴۰۰ کال په پرتله د ۱۴۰۱ کال عوایدو ۴ میلیونه او ۴۸ زره افغانۍ زیاتوالی ښيي.
بل لور ته دغه لار باندې د مسافربرۍ او باربرۍ موټر چلوونکي دې وروستیو کې د رامنځ شویو آسانتیاوو خوښ دي؛ خو د پاکستان لوري ته د دوی سره د کلینډر نه پربښودو له امله شکایت یې وکړ او د اسلامي امارت له مسوولینو یې وغوښتل، چې پاکستاني مسولینو سره دا ستونزه شریکه او یوه مناسبه حل لاره ورته ومومي.
مسوولین بیا وایي، تورخم بندر لـه لارې هره ورځ د ۸۰۰ – ۹۰۰ موټر تګ – راتګ کوي، چې د دغو او یو شمېر نورو ستونزو د حل لپاره یې پاکستاني لوري سره د همغږۍ ناستې کړې، څو د موټر چلوونکو دا ستونزې هم حل کړي.

## کونړ کې ۵ تنه د جنایي جرمونو په ...

یو تن د قتل او یو تن د غلا په تور نیول شـوی دی.
د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې په لسګونه کسان د امنیتي ځواکونو له لوري نیول شوي او دوسیې یې عدلي او قضایي ارګانونو ته سپارل شوي دي.

## ساخت یک پل ازسوی مردم ...

سخنگوی والی غور گفت: با ساخت این پل، سهولت در رفت وآمد هزاران روستا نشین فراهم شده است.
روستا نشینان در ولسوالی مرغاب غور کار شان را سهمگیری در بازسازی کشور دانسته از هموطنان خواستند که از آنان پیروی کنند.

## د لومړي ځل لپاره افغان سفیر ...

اسلامي امارت سره د تروریزم او د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې پـه برخو کې د سیمې هېوادونو پر همکارۍ ټینګار او له افغانستان سره پر بشري مرستو بحث او خبرې اترې شوې دي.
ضیاء احمد زیاته کړې، چې پـه دې غونډه کې جمال ناصر غروال د وینا پرمهال د هېواد پر سیاسي جوړښت، داړمن امنیت، د نا امنۍ او نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې سربېره د هېواد د اقتصادي وضعیت په اړه هم خبرې کړې او د غونډې د ګډونوالو د اندېښنو په اړه یې هغوی ته ډاډ ورکړی دی.
په یاد سازمان کې دمګړۍ ارمنستان، بلاروس، قزاقستان، قرکیزستان، روسیه او تاجیکستان غړیتوب لري او دا لومړی ځل دی، چې د افغان حکومت له لوري یو لوړ پوړی استازی د دوی په غونډه کې ګډون کوي.

## ایراني پلاوی د هلمند اوبو په تړاو ...

په مشرۍ کابل ته سفر وکړي، ترڅو له اسلامي امارت سره د ایران د اوبو حق پـه اړه خبرې وکړي. خو د افغانستان اسلامي امارت وایي، د هلمند د اوبو په اړه له ایران سره شوي تړون ته ژمن دی او کابل ته د ایراني پلاوي راتګ د ستونزو حل لپاره یو مثبت ګام دی. د کابل او تهران تر منځ د هلمند سیند او هامون دریاچې پـه اړه په ۱۳۵۱ هجري لمریز کال کې د افغانستان او ایران د شاهي حکومتونو تر منځ تړون لاسلیک شوی.

## میدان وردګو کې د زړې مرمۍ چاودنې ...

له املـه وخت ناوخت دا ډول مرګوني پېښې رامنځته کیږي. د معلوماتو له مخې، په افغانستان کې په تېر یوه کال کې سلګونه کسان د ناچاودو توکو د چاودنو له امله ژوند له لاسه ورکړی دی.

## پر تعلیمي نصاب دې ژور فکر او پوره ...

یو ګټور او پرمختللي نصاب جوړول بې له شکه یوه سخته او درنـه چاره ده، خو لکه چې موږ په ځینو اقتصادي مواردو کې اوږد مهالو پروژو ته اړوه ورکوو، همداشان په کار ده چې په علمي او مسلکي برخه کې هم پر یوې اساسي، اغېزناکې، شاملې او متکاملې نصابي پروژې کار کولو ته ملا وتړو. اوس نوکه څو کسه ښه ماهر، تجربه کار او له دیني او عصري زده کړو سره بلد اشخاص کېنوو او د مدارسو او ښوونځیو پر نصاب څېړنـه او کار پیل کړي، تر ممکنه بریده یې ژر پای ته ورسوي او په ټول هېواد کې تطبیق هم شي، بې له شکه چې پنځه کاله وروسته به زموږ دیني علما، ډاکټران، انجنیران، نظامیان او نور مسلکي کسان هر یو خپله ځانګه کې بشپړ او کافي مهارتونـه ولري او که خدای کول هېواد او ملت بـه مو د پرمختګ پـه لور ګړندي ګامونه واخیستی شي. په دې لړ کې باید یادونه وکړو چې مثلاً زموږ زیاتره دیني علما چې ټولې زده کړې یې په عربي کتابونو کې ترسره کړې او خصوصاً د عربي ژبې زده کولو لپاره یې پنځه–شپږ کاله یوازې د صرف، نحوې او بلاغت په لوستلو لګولي، خو له بـده مرغه پایله یې سراسر ناکامه ده. تر دې چې زموږ په سلو کې یو دیني عالم هم نه پـه عربي ژبه خبرې او نـه پرې څه لیکلی شي، ښکاره ده چې یوازنی علت یـې همدغه ناقص درسي نصاب دی، خو پوښتنه داده چې زموږ د تعلیمي ادارو مسؤلین او د مدارسو استادان ولې دغې موضوع ته سـمه پاملرنه نه کوي او د فنونو په تعلیم او تدریس کې ولې له نوي درسي نصاب او معاصرو طریقو او موادو استفاده نه کوي، حال دا چې موږ یوازې په قرآن کریم او احادیثو کې باید هماغـه لرغوني کتابونه ولولو، نه په نورو فنونو کې. ځکه نور خو په وحی نه دي راغلي، بلکې د بشري تجربو او څېړنو حاصل دی چې اوس دا دی خورا ګټور، اسانه او مختصر کتابونه په کې لیکل شوي. پـه همدې ډول زموږ ډاکټران، انجنیران او نظامیان هم در قیاس کړئ چې زیاتره یې په خپلو خپلو څانګو کې هماغو زړو موادو پورې نښتي او ټول لګیا دي، راتلونکی نسل هم په همدې کچه وروسته پاتې روزي. لازمه ده پردې موضوع جدي غور وشي او کـه د ډېر بدلون راوستلو وس نه لرو، حد اقل خو باید ژر تر ژره کار روان او د سمون پر خوا وړاندې لاړ شو.

## کار ساخت سه پروژه بزرگ ...

و نهم شهر کابل، عملی می‌شود.
در خبرنامه آمده است که دو پروژه‌ی نخست، در ناحیه اول که شامل مارکیت بسته بندی، خرید و فروش و بازاریابی میوه خشک وهم‌چنان ایجاد مرکز معیاری برای نمایشگاه این میوه‌ها است که با هزینۀ ۳۸۸ میلیون افغانی ساخته خواهد شد.
پروژه سوم اعمار یک مرکز رهایشی و تجارتی، با هزینه ۳۹۲ میلیون افغانی در ناحیه نهم است که در مساحت یکهزار و ٦۳۰ متر مربع زمین ساخته می‌شود.
پیش از این، شاروالی کابل، ٤۹ جایداد را از طریق پروسۀ مشارکت عامه و خصوصی برای داوطلبی سپرده بود که سه پروژه آن از سوی کمسیون اقتصادی مورد تائید قرار گرفته است.

## عفو یک قاتل از سوی خانواده ...

جوزجان و جمعی از بزرگان قومی اشتراک کرده بودند، معین وزارت انرژی و آب در صحبتی گفت: انسان جایز الخطا است، این حقیقت است که قاتل گناهکار است اما ما با جمعی از مسوولین مرکزی و محلی نزد پدر مقتول آمده ایم تا به عفو و بخشش که در آن فضیلت‌های بی شماری نهفته است به این دشمنی خاتمه دهند.
در اخیر مولوی نورالله به نماینده گی از ورثه مقتول گفت که ما در مقابل عفو قاتل پسر مان، خواستار هیچ امتیازی نیستیم و فقط جهت رضای پروردگار قاتل را مورد عفو و بخشش قرار می‌دهیم.
قابل یاد آوریست که چندی قبل مولوی گل محمد سلیم معاون مقام والی جوزجان هم قاتل پدرش را مورد عفو و بخشش قرار داده بود.

# میدان وردګو کې ګڼ شمېر مهمات ونیول شول



د میدان وردګو ولایت امنیه قوماندانۍ اړوند تروریزم پر وړاندې د مبارزې مدیریت له لوري د یو لړ کشفي معلوماتو پر اساس د دغه ولایت په مرکز میدان ښار کې ګڼ شمېر مهمات نیولي.
د دغه ولایت د تروریزم پر وړاندې د مبارزې مدیر مولوي زمرک عبیده باختر آژانس ته وویل، چې د یاد مدیریت منسوبینو د کشفي معلوماتو پر اساس د مرکز اړوند په جندي خېلو کلي کې ۲۲ د هاوان ګولۍ نیولي دي.
د یادونو وړ ده، چې تر دې مخکې هم په مرکز او ولسوالیو کې یو شمېر مهمات او وسلې نیول شوې وې.

## د کمپنی – برچي د نوي نښلوونکي سړک ...

سړک د ټولو برخو په ګډون د روان کال تر پایه جوړ شي.
د دې سړک په جوړېدو سره به له یوې خوا د ورځېرمه سیمو ترافیکي ګڼه ګوڼه کمه شي او له بل لوري به، ښاریانو ته ګڼ شمېر ټولنیزې او اقتصادي آسانتیاوې رامنځته شي.

## مکتبی با قدمت ۵۰ سال...

به اساس آمارارائه شده، پنجصد وشصت دختر و پسر هم اکنون دراین مکتب، مشغول آموزش اند.
محمد یاسین یک تن از معلمین سابقه دار این مکتب فساد، خویش خوری و بی توجهی مسوولان گذشته را از عوامل بازدارنده ی ساخت تعمیر به این مکتب خواند.
عاطف دانش آموز صنف چهارم مکتب ارزنگان می گوید که صنف های درسی شان مخروبه است و خیمه ی اندک دردسترس دارند.
وی از امارت اسلامی خواست برای مکتب شان تعمیر و صنف های جدید درسی بسازد.
مولوی محمد نور عزیزی رئیس معارف بغلان می گوید که تلاش دارند به مکتب هایی که تعمیر ندارند، تعمیر بسازند.
اوگفت درگام نخست، سه صدو نود خیمه را تهیه کرده اند تا به مکتب هایی که تعمیر ندارد، به عنوان صنف درسی ازآن کار گرفته شود.
به اساس ارقام موجود، ازمیان پنج صد وشصت و دومکتب موجود در بغلان، دوصدو سی وپنج آن تعمیر ندارد.

## صنعت مسگری هرات در حال ...

گفته‌اند که صنعت مسگری یکی از قدیمی‌ترین صنایع افغانستان به شمار می‌رود و روزگاری بازار گرمی داشت، اما اکنون این صنعت رو به رکود و فراموش شدن است.
احمد محمدی از مسگران ولایت هرات می‌گوید که هنر مسگری از پدرش برای او به میراث باقی مانده‌است، اما حالا ادامۀ این صنعت را خوب توصیف نمی‌کند، چون به گفتۀ وی، با گذشت هر روز، کار مسگری رو به رکود است و کسی نیست که از این صنعت حمایت کند.
به گفتۀ محمدی، اگر از این هنر حمایت شود و مس خام در اختیار آن‌ها قرار گیرد، در این صورت از طریق هنر دست داشته شان می‌توانند، برای افغانستان در عرصۀ صنعت مسگری دستاوردهای خوبی داشته باشند.
در کنار احمد مسگران دیگر نیز به این باور اند که از چندین سال به اینسو، به این صنعت توجه‌یی از سوی مسؤولین محلی صورت نگرفته‌است و این هنر دیرینه در ولایت هرات به ورشکسته‌گی رو به‌رو شده‌است.
عبدالطیف یکی دیگر از مسگران و فروشنده‌گان وسایل مسی نیز با تایید رکود بازارشان می‌افزاید که فروش محصولات شان نهایت کم شده‌است و به گفتۀ وی، اگر برای زنده سازی این صنعت کاری نشود، بسیار زود بقایا و فرش این صنعت کهن جمع‌آوری خواهد شد.
موصوف تصریح کرد که در گذشته بیش از شصت دکان مس در هرات وجود داشت، اما حالا تنها چهار الی پنج دکان مسگری در این ولایت باقی مانده‌است.
صنعتکاران مس در این ولایت با تولید ظروف مسی غذا خوری و غیر غذا خوری، زمانی با داشتن بازار مناسب و کاروبار شان از رونق خوبی برخوردار بودند که هیچ خانه‌یی در هرات بدون ظروف مسی دیده نمی‌شد و این در حالی است که جای ظروف مسی را در خانه‌ها ظروف شیشه‌یی گرفته و در حال حاضر تنها در برخی رستورانت‌ها از این ظروف استفاده می‌شود.
با این حال، برخی از اگاهان امور فرهنگی، صنایع مسگری را جز از فرهنگ و هویت تاریخی هرات قدیم دانسته می‌گویند که از سالیان متمادی به اینسو به صنعت‌های چون سفالگری، مسگری، آهنگری و شیشه سازی توجه نشده و تمام این صنایع در حالت رکود و نابودی قرار دارد.
مسلم مروی، آگاه امور تاریخی و فرهنگی در ولایت هرات می‌گوید که حکومت باید از این هنر و صنایع حمایت کرده و آن را در چهارچوب یک مضمون در نصاب تدریسی در انستیتوت و یا پوهنتون‌ها نیز تدریس و جا دهند.
از سویی هم، مولانا نعیم‌الحق حقانی رئیس اطلاعات و فرهنگ ولایت هرات ضمن حمایت از تمامی صنعتکاران در این ولایت، صنعت مسگری را یکی از قدیمی ترین صنعت دستی این ولایت خوانده و تاکید دارد که برای بقای این صنعت اصیل افغانی از هیچ تلاشی دریغ نخواهند کرد.
حقانی، حفظ و رشد صنعت مسگری را وظیفۀ دولت و ملت عنوان نموده گفت که به هر اندازه این هنر رشد کند می‌تواند نظر گردشگران خارجی را نیز به کشور و خصوصا به ولایت هرات جلب نماید.
قابل یادآوری است که تاریخ دقیق از این صنعت وجود ندارد اما کارشناسان فرهنگی و نویسنده‌گان ولایت هرات به این باور هستند که صنعت مسگری به دوران تیموریان و غزنویان بر می‌گردد.

## زابل کې د غنمو کرکیله ډېره...

پر زرګونو کروندګرو د غنمو اصلاح شوی تخم او کېمیاوي سره ووېشل چې د غنمو ډېر کر ته یې لار هواره کړه هغه زیاته کړه تېر کال په مرکز کلات او ولسوالیو کې پـه تخمیني ډول پر ۱۰ زره هکتاره ځمکه غنم کرل شوي وو چې ۱۷ زره ۶۰۵ ټنه حاصلات ورڅخه ترلاسه شوي وو، خو سږ کال په ۱۳ زره هکتاره ځمکه غنم کرل شوي چې په تخمیني ډول به ۳۰ زره ۴۶۰ ټنه حاصلات ترلاسه شي. نوموړی وایي، په دې توګه به سږکال په یاد ولایت کې د غنمو حاصلات ۵۵ سلنه ډېر وي.

## لوګر او لغمان کې ۴ تنه د غلاو ...

د امنیې قوماندانۍ ویاند احمدالله انس وویل، پرون ورځ د برکي برک ولسوالۍ اړوند د جنایي جرمونو سره د مبارزې منسوبینو هغه درې تنه، چې غوښتل یې د یادې ولسوالۍ مرکزي بازار له هټوالو څخه نغدې پیسې غلا کړي لاس په لاس نیولي دي.
ورته مهال د لغمان امنیتي مسوولین وایي، چې د دغه ولایت په الینګار ولسوالۍ کې یې یو کس د خپل تره د قتل په تور نیولی دی.
د یادونې وړ ده، چې د یادو کسانو دوسیې به له لومړنیو څېړنو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپارل شي.

## تسهیلات بیشتری برای ...

شیخ زر محمد در مورد دستآوردها، پیشرفت‌ها و پلان‌های آینده‌ی وزارت حج و اوقاف معلومات خویش را با معاون سیاسی ریاست الوزراء شریک ساخت.
معین مسلکی وزارت حج و اوقاف گفت که در سال جاری برای عازمین حج، معلمین، جای سکونت و سایر سهولت‌ها در نظر گرفته شده است و هیئت افغان در سعودی تلاش بیشتر می‌نمایند تا برای حجاج افغان نسبت به گذشته سهولت‌های بیشتر را فراهم سازد.
معاون سیاسی ریاست الوزراء با اشاره به تلاش‌های اخیر وزارت حج و اوقاف، گفت که این وزارت در زمینۀ مرمت و اعمار مساجد در تمام کشور توجه جدی کند و در سال جاری سهولت‌های بیشتر را به حجاج فراهم نماید.

# Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ويب سايت:

**شريعت**
د ليکوال هيئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئيس:
م محمد ابراهيم نبيل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدير: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شريعت برېښنا ليک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزيع و شکايات: ۰۷۷۶۷۸۸۴۴۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Sunday 30 April 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 168


# د کمپنۍ - برچي د نوي نښلوونکي سړک جوړولو چارې پيل شوې



د کابل ښاروالۍ د کار، ساتنې او مراقبت رياست له لوري د استملاکي چارو له بشپړېدو وروسته د کمپنۍ - برچي تر منځ د نوي نښلوونکي سړک د جوړولو چارې پيل شوې.

ياد سړک چې له قلعه ناظر سيمې پيل او د نقاش تر حمام پورې ۲.۲ کيلو متره اوږدوالی او ۳۰ متره سور لري، پنځمه ناحيه له ديارلسمې ناحيې سره نښلوي چې په بنسټيزه توګه به د يوه معياري ... ۵مخ

## ۵۰۰ معتادينو ته کاري زمينه برابرېږي

هرات ولايت کې د ۵۰۰ روغ شوي معتادينو ته په مالګې کان کې کاري زمينه برابرېږي.

د هرات له نشه يي توکو سره د مبارزې مسوولينو وايي، چې دغه کسان د ډاکترانو له تاييدي وروسته د مالګې په کان کې پر کار ګومارل کېږي.

ورته مهال د غوريان د مالګې کان د استخراج رييس ناصر اميد د روږدو کسانو له نشه يي توکو څخه د لرې پاتې کېدو لپاره د کاري زمينې برابرول ډېر ګټور بولي او وايي، چې دغه کسان په خپله خوښه په کار ګومارل کېږي.



## مکتبی با قدمت ۵۰ سال، بدون تعمير در بغلان



ليسه‌ی ارزنگان در ولسوالی اندراب بغلان که نزديک به نيم قرن قدمت دارد، هنوز تعمير ندارد.

شاگردان اين مکتب، همواره درفضای باز و درميان مخروبه ها درس خوانده اند.

احمد ذکی عزيزی مدير ليسه ارزنگان می‌گويد: به دليل نبود صنوف درسی، به ناچار با خيمه ها به دانش آموزان، صنف های درسی ساخته اند. ص۵

## کونړ کې ۵ تنه د جنايي جرمونو په تور ونيول شول

د کونړ د امنيې قومندانۍ مسوولين وايي، چې د دغه ولايت په بېلابېلو سيمو کې امنيتي ځواکونو ۵ تنه د جنايي جرمونو په تور نيولي دي.

د دغه ولايت د امنيې قومندانۍ مسوولينو باختر آژانس ته وويل، چې د دغو کسانو له ډلې يې درې تنه د انسان تښتونې، ۵مخ

## ايران و عربستان فعاليت‌های ديپلماتيک شان را از سر می‌گيرند



ايران و عربستان سعودی که بدنبال عادی سازی روابط اند به زودی سفارتخانه‌های شان در پايتخت‌های دو کشور بازگشايی خواهند کرد و به اين ترتيب تنش هفت ساله سياسی ميان تهران و رياض خاتمه خواهد يافت.

اين دو کشور از چندی بدينسو با ميانجگيری چين مذاکرات سودمندی برای عادی سازی روابط شان داشته اند و تا سرحد بازگشايی سفارتخانه‌های شان پيش رفته اند.

به تازه گی وزير خارجه ايران اعلام کرده است؛ قرار است اين کشور و عربستان سعودی طی چند روز آينده سفارتخانه‌های خود را در رياض و تهران بازگشايی کنند.

حسين اميرعبداللهيان؛ اين مطلب را روز گذشته در حاشيه سفرش در لبنان اعلام داشت.


## د زرګونو بې سرپرسته ماشومانو درملنه

شريعت: د هرات د کار او ټولنيزو چارو رياست د عامې روغتيا رياست په همکارۍ د تېرکال په بهير کې په بېلابېلو روغتيايي مرکزونو کې د ۲۰۲۰ بې سرپرستو ناروغو ماشومانو درملنه کړې ده.

د دغه ولايت د کار او ټولنيزو چارو رييس حافظ ميرزا محمد ابو منصور وايي، چې د دغو ناروغو ماشومانو درملنه د عامې روغتيا له رياست سره له هوکړې وروسته په وړيا توګه ترسره شوې ده.

منصور زياتوي، چې ياد رياست هڅه کوي، څو په ښار کې د ټولو يتيمانو او بې سرپرستو ماشومانو ستونزو ته په بېلا بېلو برخو کې د پای ټکی کېږدي.

## صنعت مسگری هرات در حال زوال



برخی از مسگران در ولايت هرات از نبود بازار محصولات‌شان و عدم حمايت حکومت شکايت نموده می‌گويند که اين صنعت کهن به باد فراموشی سپرده شده و مردم نيز علاقه‌ی چندانی به وسايل مسی ندارند.

اين مسگران در صحبت با آژانس خبری پژواک ... ص۵

## در جريان ده روز گذشته بيش از ۲۰۰ پناهجو در آبهای تونس جان باخته اند




گارد ساحلی تونس اعلام داشته است که در جريان دو روز گذشته ۲۱۰ پناهجو که قصد سفر جانب ايتاليا را داشتند در آبهای اين کشور غرق شده اند و اجساد بسياری از آنان به دليل دير ماندن در آب' تخريب شده است.

حسام‌الدين جبالی يکتن از فرماندهان گاردهای ساحلی تونس به رويترز گفته است که پيدا شدن ۲۱۰ جسد در ظرف ۱۰ روز در سواحل آن کشور بی‌پيشينه است که نشان می‌دهد حجم مهاجرت از مسير تونس به سوی اروپا بيشتر شده است.

پناه‌جويانی که از تونس به عنوان راه ترانزيت به جانب اروپا استفاده می‌کنند بيشتر شهروندان کشورهای جنوب صحرای افريقا، سوريه و سودان اند.

مقام‌های تونس گفته اند با وجود تلاش‌ها در جلوگيری از مهاجرت‌های غير قانونی و خطرناک پناهجويان از مسير اين کشور به اروپا، هنوز هم ناکام بوده‌اند.

## د تورخم د ترانسپورټ مديريت په عوايدو کې زياتوالی راغلی



د تورخم ترانسپورټ مديريت مسوولينو د تېر په پرتله د خپلو عوايدو له زياتوالي خبر ورکړی دی.

د تورخم ترانسپورټ مدير مولوي قدرت الله کوتوال باختر آژانس سره په يوه مرکه کې وويل، چې د تورخم ترانسپورټ مديريت د باربرۍ موټرو څخه په تېرو ۶ مياشتو کې ۱۲ ميليونه ۴۷۴ زره افغانۍ عوايد د موټرو د تنظيم او نوبت ... ۵مخ

## ليلام ۱۴ ميليون دالر برای تقويت ارزش پول افغانی

شريعت: د افغانستان بانک به منظور تقويت بيشتر ارزش پول افغانی، مبلغ ۱۴ ميليون دالر امريکايی را طی داوطلبی امروز يکشنبه (۱۰/۰۲/۱۴۰۲) به طور ليلام بفروش می‌رساند.

اين بانک روز گذشته با نشر خبرنامه‌يی از بانکها و شرکت‌های صرافی و خدمات پولی واجد شرايط خواست، تا در اين داوطلبی اشتراک نموده و برنده گان ليلام مکلفيت دارند تا حسابات شانرا الی ختم روز ليلام، تصفيه نمايند.

خبرنامه می‌افزايد: در اين داوطلبی اسعار تسويه قسمی معاملات مجاز نيست، برنده گان داوطلبی مکلف اند تا در مدت معينه، پول ذمت خويش را يکبار بطور نقد تحويل د افغانستان بانک نمايند.

## غور کې د نشه يي توکو کارخونه له منځه يووړل شوه

د غور د امنيې قومندانۍ مسوولين وايي، چې د دغه ولايت په شهرک ولسوالۍ کې د نشه يي توکو د توليد يوه کارخونه کشف او له منځه يووړل شوه. د دغه ولايت د امنيې قومندانۍ وياند عبدالرحمن بدري وويل، چې دغه کارخونه د شهرک ولسوالۍ په استوه سيمه کې له منځه وړل شوې، چې په کې ۲ زره ۲۵۰ کيلوګرامه يامه هم ترلاسه او سوځول شوي دي.

بدري زياته کړه، چې د دې قضيې په تړاو يو کس نيول شوی دی.

نوموړي دغه راز وويل، چې امنيتي ځواکونو د دغه ولايت په پسابند ولسوالۍ کې ۳ تنه د نشه يي توکو د چاقاق په تور نيولي دي.

د يادونې وړ ده، چې د نيول شويو کسانو دوسيې به له لومړنيو څېړنو وروسته عدلي او قضايي ارګانونو ته وسپارل شي.

## ساخت يک پل ازسوی مردم محل درغور



باشندگان روستای دهور ولسوالی مرغال ولايت غور، با ساخت يک پل، مشکل رفت و آمد شان را خود حل کردند.

اين پل موتر رو، در روستای دهور ولسوالی مرغاب، جايی که رفت وآمد باشندگانش به بازار ولسوالی وجاده ی عمومی، با مشکل مواجه بود، ساخته شده است.

مولوی عبدالواحد حماس ص۵